مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمی ۲۰۲۲/۰۹/۱۳

د لوی اختر په درشل کې

رڼا تیاري ته د ورتک بلنه ورکړه ،د عرفات ورځې دسیمې چاپیریال شپې ته وسپاره ،مخکې تر دې چې دکلیو په تشیال تیاري خپلې وزرې وغوړوي،هرڅه دالله اکبر خوږو نارو ته سترګې په لاروو چې اذان یې خاموشې ماته کړه مخکې تر دې چې په خوږو پیل وشي د روژې دار له خولې را ووتل چې اې زموږ ربه موږ ستا لره روژه نیولې ده، په ستا مو ایمان راوړی دی، په ستا موتوکل کړی دی اوستا په رزق سره مو روژه ماته کړه په دې خوږ و کلیمو سره د دې سپیڅلې مینې لړۍ دلمانځه اودعا ادا کونې او وینې سره لاپسې اوږده شوه خوکله چې له لمانځه وروسته دعا ته سره لاسونه لکه په ژمې کې دکلې مخ ته دمنو باغونه اوچت شول د ښنې ،وصال،دیدن ،جنتونو ،د کوثر په جام کې داوبو څښلو ،شفاعت اونورو غوښتنه وشوه.

پدې وخت زیږ نوراني ګرد مخ د درو په سرکې د هسکوغرونو په منځ کې له کنډو را وکتل تا به ویل چې څوک ځاري ورو ورویې دکلې سرته دراتلو زړه وکړ تر څو دسبا ورځې دمراسمو دګډون په موخه دخلکوسره په تابیاوو کې مرسته وکړي ، په سپین زړه هر چا ته غیږه ورکړي ،مرورو زړونو ته په غوږ کې څه واویې،دسیموالو د اختریزو جوړو ښکارونه وکړي ،د سینګارونې ښکلا یې وګوري ،درنګونې اوجوړونې نظم ته نظر ورکړي ،دتیاروشویو خوږو خوند وڅکي ، دلوښو په برابرونه کې لاس په کار شي ، دمیوې په اچولو کې برخه واخلي ، دجانان دراتلو په تاو راتاولارو کې هر لورته خوشبویې وپاشي ، دډالیو په چمتو کولو کې مینه موندونکې نو ښتونه وکړي ، چینارونو ته داوچتو شملو رنګ وټاکي نسیم هم په الوتولو را الوتولو شروع وکړي دنوې ورځې نوی څرک یې مسافري ورپه یاده کړي ،په خوب وړوسترګو دمنګیو په بدرګه له ګودره خدای په اماني وکړي اوسترې پردیس په اسماني بیابان کې خپل قدمونه ګړندي کړل له غرونو واوښت یوچا داسې زمزمه وکړه.

د نسیم له تیز ګامی معلومیږي
چې به ږدي قدم د تللو په رکاب ګل

تیاري تور رنګه توکر لا تول کړی نه وو چې دمسجد له غږ لوړونکي څخه په خواږه زړه وړونکي اواز دلمانځه د ورتګ بلنه واوریدل شوه دورځې دلابرکتي کیدو لپاره یوښه پیل وو چې نور یې له ځان سره رڼاګاني ،ښکلاوې اوګڼې ګوني له ځان سره لرلې ،دې هیلې ته په هو ویلوسره دمسجد په غولې کې په ډلیز ډول سجدې ولګیدلې په زړه کې پرتې غوټې یې ټولې په دعا کې وسپرلې خو ترلمانځه وروسته ګډه دعا تر هرڅه خوندوره وه ځکه چې دتاریخ پدې تیریدونکې پړاو کې په سیمه درالویدلو بلاوو څخه دخلاصون په موخه لاسونه لپه شول په اخرت کې دحورو،غلمانو ،دفردوسي جنت ،شفاغت ،دښې لاسې کړن پاڼې غوښتنې په کې وشوې چې په زوره ورته امین وویل شول خلک دخطبې د اوریدو ته ورته په صفو کې دګلې ګلونو په څیرناست پاتې شول واعظ صاحب په سپینو جامو کې لکه دسولې پیغمبر ممبر ته وخوت دلوی اختر دورځې په مناسبت یې پوره ګلونه وپاشل دسربښندنې څوبیلګې یې له ابراهیمي سیرت را واخیستې اوخلک یې سپیڅلې مینې اواسلامي ورولۍ ته راوبلل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو دا وخت لمرتازه خپلې وړانګې په غروکې اچولې وې ، دخوړو بویونو کلی په سر اخیستی وو، عطرو اوخوشبوییو هم طبیعتونه خوشحاله ساتل ،دپرون د همدا وخت دشپونکیو ناري غلي وي چې نن یې دکلي په منځ کې وختي ماشومانوددې سحر هرکلی کړی وو، دکلي پنډ غالي ته دمزه لرونکو خوړو ،تودوڅښاکونو ،رنګینو جامو لړی راماته شوې وه ترڅو په ګډه دښکلا ،مینې ،لورې اواخلاص په فضا کې دلوی اختر دلومړی ورځې لمانځنه وکړي په یوالي ،سرښندنې ،پیرزوینې او ورکړې باندې ورته ښه راغلاست ووایي چې د قرانکریم په خواږه اواز ،دلاسونو په لپه کیدو او دخدای دنامه په اخستلو سره دسبا ناري پرانسته وشوه دکندورې دپاسه ډیرخوړو ښاري جوړښت درلود دکلیوالو خوړو ښه اوخوند تر هرڅه زیات وو،دا وخت لمر هم په کلي کې اړولي وو،په دې ښکلي تشیال به یې سترګې درندې شوې وي چې خپلې وړانګې یې لا پسې غښتلې کړې اودشته ناستې ښکلا یې کمزوریې کړه په همدې پلمه کلیوالو لږمخکې پدې ستاینه خولې خلاصې کړې ثنا اوصفت هغه ذات لره دی چې موږ ته یې خواړه راکړل ،ماړه یې کړو او موږیې دمسلمانانو له ډلې وګرځولو درنګینوګلانو دکتار دوره داسې ودریده چې هسکو شملو یې دبل پوړ دګل دخوریدو زیری راوړی وو ،پرشونډویې موسکا خوروله اوله خولې یې دا خوږې جملې اخترمومبارک شه ،عبادتونه ،لمونځونه ،روژې ،تراویح اونیک عملونه مو قبول شه، حاجیان اوغازیان مو په کې دا خل شه چې له ښې لورې راتاویدونکې دورې لکه دلرغونې باختر په لوړو کوتلوکې دوریښمو تیریدونکې کاروانونه د مبارکی لړی لاپسې وغځوي یوڅوک داسې لنډی واوروي:

دلوی اخترمبارکی کې
زه به مې یار ته، لویه غیږه ورکومه

همدا ورځ به وه چې په کلي دستورو ځلا اوریدلې وه ، دماشومانو ډلې دپرونیو اشرپه ځیردکلي په تاو راتاو کوڅوکې د راتلونکې زمانې دډاډینې پیغام په پوره زوږ اوشور سره مشرانو ته وړاندې کړ په مینه ناکو ژبو یې د طوطیانو په انداز کې اختریزې ښکلا ترانې زمزمه کولې اود اخترمبارکی متن یې هر مشرته په هره خلاصه دروازه کې ولوست خو د دوی په رنګینیو سره دکلي حریم ډک ښکاریده چې د سترګو پاملرنه یې ور ګرځوله په لربر کې دغځیدلو لارو خاموشې یې ماته کړې وه له کورنویې عیدی را ټولولې په خپلو سیمه ایزو لوبو بوخت شول ،ټول هغه څه یې ننداري ته وړاندې کول چې له اختره وړاندې یې تابیا ورته نیولې وه او خپلې هیلې یې په عمل کې ښودلې. لویان هم دا وخت داختر مبارکی وروسته کورونو ته راستانه شوي وو نور یې بیړه درلوده چې دخپلې غاړې دخلاصولو په موخه دابراهیمي سنتو د پرځای کولو لپاره څاوري ذبح کړي ، برخې برخې یې کړي دهرچا برخه بیله کړي ، نور د اختر دنورو بوختیاوو لړی وغځوي ،د بې وسه کورونو له نغري هم لوګی دخوړو بوی راوړي چې د قربانیو له برکته دوی هم خواړه ومومي او په خپلو دعاګانو کې ورته ځای ورکړي او د هیلو د پوراوي لپاره یې لاسونه دغړشتي دونې په څیر چې د غره په ډډه کې ښکاري پورته شي.

کلی ښکلي وو خونن به پرې هرچا زړه بایللی وي ، چیرته چې روښانه لمر خپلې زیړې وړانګې لیږي، نرمه هوا دخوځیدلو ته هڅوي ،ټکنده غرمه کې وریځې د سوزونکو وړانګو مخ ته دریږي ، پدې ښکلې سیمه د ژغورنې لاس ونیسي ، دغوړیدلو ګلانو تازه ګې ساتي ، پر دې سربیره دا وخت لمرهم پوره مزل داسمان په شنه ورشو وهلی وو ،دغرونو څخه راوښتی وو،د سیمې په ژبه د ناشتې وخت وو، چې دابادیو له اړخه دسالمې انرژی دنشتون له امله دا وخت په کلي کې شنې لوخړې راپورته شوې اود دې لامل به شوې چې دسیمې شته شنه ښکلا دڅو شیبو لپاره له سترګو پټه کړي چې د نظرکیدلود مخنیوي ښه بانه کیدی شوای بلخوا دا یو ښه پیل وو چې دغرمې لپاره دهمدې شنو لوخړو پربرکت خواړه خوراک ته چمتو کیدل.

څاوریو ذبحې د اختر مراسمو ته لانوره ښکلا هم ښښلې وه چې ناتوانه وګړو ته یې هم دا توان ورکړی وو چې ځانونه په اخترکې شریک او له نورو سره یوشان وګڼي دنورو کلیوالو سره په ګډه د سحرنی ،غرمنی او ماښامنی دسترخوان ولري چې دهر ډول ارزښت لرونکې خواړه او څښاکونه به پرې ایښودل شوي وو چې کله ناکله به دمرورو سترګو مخامختیا هم دخاموشی غوټی پرې راسپیړلې ، دځینو ځیرکتیا به تر دې اندازې لوړه وه چې د رازونو شالید ومومي او د بنډار په جوړښت کې تفریح او دمه ځای کړي.

اختر ته په درناوي هر زړه غوښتل چې مینه را وټوکوي همدا خواږه څه له خپلو خبرو سره ملګري کړي په الفاظو کې یې راونغاړي تر څو پرې هغه څه مات نکړي چې وروسته پیوند نه مني دا به وو چې دناستو ښکلا به تر دې اندازې زیاته وه چې څومره به یې زمانې لړی زیاتیدله تلوسه او د بر خې اخیستنې لیوالتیا به یې ډیریدله دا موکې به هم ورسره ملې وې چې ځینې د خپل ژوند خوږې خاطرې دنورومخ ته کیږدي په خوښیو پیل دا بهیر لا پسې تاند وساتي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا وخت زیاتره رسمي اوغیري رسمي چاري به ځنډیدلي له همدې ښه اوپرځای وخت څخه په ګټه اخیستني اختریزوناستو کي به دکلي ګډ مسایل،پیښي او ستونزي څیړل کیدلي ،مشوري اخستل کیدلي دحل لاري ورته په ګوته کیدلي اوګډ تصمیم به د ټولو دمنلو کیدو څخه وروسته عملی کوني ته به راوړاندي شو چي دبیلګي په ډول دولس دخیر په پلمه دلارو دجوړولو عمومي حشرته دخلکو د راوتلو نوښتونه هم په کي تر سترګو شوي دي.

دخپلوی پالل د هر وګړي دنده ده چي داختر په بهیر کي د خپلوالونو لیدو ته ورشي ،مبارکي ورکړي ، دنیکو اعمالو دقبلیدو دعا ورته وکړي، دحال او احوال پوښتنه یي وکړي ، دزړه راز په پلمه روغبړ د ژوند په ټولو اړخونو داسي راچاپیر کړي چي پوښتني لپاره به هم څه پاتي نه وي ،زړه راښکونکي ګلوریني ډالۍ له ځان سره یوسي پدي سره ددي لړۍ دغځولو ډاډ ورکړي.

مینه ګر دمیاشتي له پیله د ارامی ساه نه لري چي دخپلي میني د لړۍ په اوږدلو پسي دزړه د راخپلولو په لټه کي دهنرله زیرمي،دښکلا له ارزښتپانګي، دمیني له خزاني ،دطبیعت له بډایني ، د ژبي له خوږوالي، دزړه له لوریني اود اخلاص له ورکړي ټولي هغه ښکلي،ګلوریني ،په رنګینیو پوښل شوي، د میني په تورو کاږل شوي ،ارزښتمني ډالۍ را اخلي چي یوبل ته په زړه کي دځای ورکولو راز له ځانه سره لري دواړه ستړي لوري یي پدي شپو او ورځوکي دراتلو او راوړلو په موخه تاو راتاو په ونو اوبوټو پټي لاري څاري چي دزیري په اوریدو سره یي دسترګو وړانګي له لراوبرڅخه ورټولیږي.

داختر دلمانځلوپه اړوند د خوښۍ داسي بل رنګ هم شتون درلود چي له کلي وړاندي یي هم نښي څرکندیدلي هغه دا چي ډلیزي ولسي لوبي یي ترسره کولي توپ بازي یي ننداري ته وړاندي کوله ، دکلکان دهسک شوي توپ نیولو ته لاسونه هوا ته پورته شوي وو ،غیږي نیولو ته څادرونه ترملاشوي وو،کم عمره ماشومانو دغوزانو ګټلواوبایللو ته حلقه جوړه کړي وه ، ولیبال دزلمیانو دهر مازدیګري بوختیا ګڼل کیده او په کرکټ اخته ځوانانو ځانونه د دوزره اتلسم کال دکرکت دنړیوال جام ګټونکي بلل.

په کلي کي دننه هم خوښۍ زوږ په جوش کي روان وو ،دمبارکۍ په پلمه جوپي جوپي خلک راتلل او وتل چي سترګي دجومت مخي ته دویالي په غاړه هسکي وني ته وراوښتي دپاسه درنګا رنګ مرغانو دزمزمو برسیره ډیری حشراتو او الوتونکو په کي ځالي جوړي کړي وي اوپه زړه وړونکی ترنم یي دکلي سره دیووالي اوهمغږۍ ترانی ویلي دهمدي لوبي وني لاندي چي کله نا کله به دکلي مشران تري راټولیدل،شپانه به هم دپسرلي په غرمه کي ورته ډډه وهله خو داختر په شپو اورځوکي به دزانګو رسۍ په کي ځوړونده وه تنکیو ځوانانو اوځوانانوبه په کي ټالونه وهل دي لوبي دا دود چي له نیکونو را پاتي اوله دي ونو یي زیاته لرغونتیا لرله د دي لامل شوی ووچي ډیر روایتونه ،کیسي ،خاطري اونور دزماني په تیریدو ورسره مله شي چي ځینو مشرانو به د خپل عادت له مخي دا ټول څه ګډونوالو ته اورول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ